صداهای زنان برای صلح همه‌شمول و پایدار
د ټول‌شموله او تلپاتي سولې لپاره د ښځو غږونه
Women's Voices for an Inclusive and Sustainable Peace

د ښځو د سولې لنډيز

په افغانستان کې د جنسيتي تبعيض په اړه د ښځو نظرونه


۲۰۲۴ کال، د اپريل مياشت

لنډيز:

- د افغانستان په ۲۶ ولايتونو کې له ۳۶۴۰ ميرمنو څخه وپوښتل شول چې دوی د تالبانو د حکومت لخوا نافذ شوي جنسيتي تبعيض ته څنګه ګوري.
- ۶۷٪ ځواب ويونکو ومنله چې د تالبانو لخوا لګول شوي محدوديتونه يو سيستماتيک ظلم او پر ښځو او انجونو تسلط دی .
- ۶۱٪ ځواب ويونکو ومنله چې د تالبانو لخوا د محدوديتونو پلي کولو اصلي موخه د يوې داسې ټولنې رامينځته کول دي چې ميرمنې او انجونې پکښې د نارينه وو او هلکانو تابع وي، چې په دې لړ کې، له ۱۸-۳۵ کلنو ميرمنو ځواب "په کلکه موافقه يم" شايي د نورو ځواب ويونکو په پرتله ۶-۱۱٪ لوړ وي .
- ۶۴٪ ځواب ورکوونکي وايي چې د جنسيتي تبعيض عناصر په بشپړ ډول او يا هم "تر يوه حده" په سمه توګه د اوسني وضعيت ښکارندويي کوي
- ۶۰٪ځواب ويونکو وويل چې دوی له ملګرو ملتونو څخه غواړي چې د ښځو او انجونو په وړاندې د تالبانو د پاليسيو د تشريح کولو لپاره د "جنسيتي تبعيض" اصطلاح وکاروي .


لومړی پوښتنه

ايا تاسو د اوسنيو چارواکو لخوا پر ميرمنو او انجونو باندې لګول شوي محدوديتونه، سيستماتيک فشار او پر ښځو او نجونو تسلط بولئ؟




دوهمه پوښتنه


ايا تاسو فکر کوئ چې د ښځو پر وړاندې شته محدوديتونه (لکه د ښځو او نجونو پر وړاندې تبعيض / د تک راتک محدوديتونه، د زده کړې / د کاري فرصتونو محدوديتونه) د اوسنيو چارواکو لخوا د يوې داسې ټولنې رامينځته کولو لپاره پلي شوي چې ښځې او انجونې، د نارينوو تابع وي؟



دریمه پوښتنه ایا تاسو باور لرئ چې د جنسیتي تبعیض ذکر شوي عناصر اوسني شرایط چې د چارواکو لخوا د ښځو او انجونو لپاره رامینځته شوي، په سمه توګه انځوروي؟



څلورمه پوښتنه ایا غواړئ ملګري ملتونه په افغانستان کې د اوسني وضعیت د بېانولو لپاره د "جنسیتي تبعیض" اصطلاح وکاروئ؟



اساسي موندنې: ډله ییز متمرکز بحثونه

ډله ییز متمرکز بحثونه په ۱۹ ولایتونو کې د واوره د ښځو د سولې له حلقو څخه د ۳۱۴ ښځینه ګډون کونکو سره ترسره شوي. ګډونوالو د نظرپوښته د پایلو په اړه خپل نظرونه شریک کړل، په دې اړه یې بحث وکړ چې ښځې ښایي ولې د تالبانو بندیزونه د سیستماتیک ظلم او تسلط په توګه تشریح کړي یا نه. دوی په دې هم بحث وکړ چې ایا ملګري ملتونه باید په افغانستان کې د ښځو او انجونو د وضعیت د بېانولو لپاره د "جنسیتي تبعیض" اصطلاح وکاروي که نه او که ملګري ملتونه دا اصطلاح تصویب کړي نو پایلې به یې څه وي .

له ګډونوالو وپوښتل شول چې ولې د نظرپوښته ځینې ځواب وېونکې په دې باور نه وې چې د تالبانو محدودیتونه د ښځو او انجونو د سیستماتیک ظلم او تسلط په توګه بیان شي، د بحث ډیری برخه اخیستونکي دې پایلې ته ورسیدلې چې دې ښځو ښایي د دې خبرې د تائید وړتیا نه درلوده. حتی د پروان د ډله ییز بحث برخه اخیستونکو په منځ کې هم دا وضعیت څرګند وو، یوازینی ولایت چې د ښځو اکثریت پکې د تالبانو محدودیتونه ظالمانه و نه بلل. د پروان ولایت یوې ګډونوالې وویل: "زما په اند دا ۲۴٪ ښایي نا لوستي، تنګ نظره، یا ښایي نه پوهېږي او یا نه غواړي چې هېواد یې وده وکړي، که نه نو دا مهال ښځې د نارینه وو تر واک لاندې دي. انجونې حتی حق نه لري چې د زده کړې ساحه وټاکي، زده کړه وکړي او یا کار ته لاړې شي." نورو ګډونوالو وړاندیز وکړ چې شاید ځینې ښځې د خپلو حقونو په اړه نه پوهیږي او محدودیتونو ته د دین د امرپه توګه ګوري .

ګډونوالو په دې هم بحث وکړ چې ولې ځینې ښځې نه غواړي چې ملګري ملتونه په افغانستان کې د وضعیت د بیانولو په وخت کې د "جنسیتي تبعیض" اصطلاح وکاروي. ډیری یې دا د پوهاوي یا د تعلیم نشتوالي ته او یا هم د وېرې شتون ته منسوب کړي. داسې شک هم موجود وو چې هغه ښځې چې اختلاف لري ښایي د تالبانو یا تالب پلوېانو له کورنیو څخه وي. د نورستان یوې ګډونوالې د دې احساس لنډیز وکړ: "هغه څوک چې اختلاف لري هغه ښځې دي چې د کورنۍ غړي یې له تالبانو سره کار کوي. بل لامل دا هم دې چې بېخبری هم ده او دوی په خپلو حقوقو نه پوهیږی. له همدې امله دوی اختلاف درلود .

کله چې د بحث له ګډونوالو وپوښتل شول چې ایا دوی احساس کوي چې ملګري ملتونه باید اوسني وضعیت ته د "جنسیتي تبعیض" اصطلاح وکاروي، ډیری ګډونوالو مثبت ځواب ورکړ. د کابل یوې ګډونوالې وویل: "که د جنسیتي تبعیض اصطلاح وکارول شي، نو دا به د ښځو ستونزې په اغیزمنه توګه حل کړي. "ملګري ملتونه باید دا موضوع جدي ونیسي او د ښځو پر وړاندې د محدودیتونو د لرې کولو په برخه کې اوسنۍ حکومت حساب ورکولو ته اړ کړي." همدا غبرګون د فراه او دایکندي ولایتونو د ګډونوالو لخوا هم وښودل شو، سره له دې چې له همدې ولایتونو څخه د پام وړ شمیر د نظرپوښته په ځواب کې د دې اصطلاح له کارولو سره مخالفت وښود. د فراه یوه ګډونوالې په دې نظر وه چې "جنسیتي تبعیض" په لوړه کچه شتون لري. هغه کسان چې د دې اصطلاح له کارولو سره اختلاف لري ښایي ویره ولري چې که ملګري ملتونه پر تالبانو[حکومت] فشار راوړي، دا به د ښوې بلې جګړې امکان رامنځته کړي.

کله چې وپوښتل شول چې که ملګري ملتونه په افغانستان کې د ښځو او انجونو د وضعیت د بهانولو لپاره د "جنسیتي تبعیض" اصطلاح وکاروي، تالبان به په دې اړه څه ډول غبرګون وښیي، د متمرکز بحث ګډونوالو ووېل چې تالبان به ښایي په غبرګون کې د داسې پالیسیو له شتون څخه انکار وکړي او یا به د ښځو او انجونو په وړاندې د غچ اخیستلو لپاره چمتووالئ نیسي، او یا به دواړه عکس العملونه شامل وي. ډیری ګډونوالو ووېل چې ښایي په هیواد کې د ښځو او انجونو په وړاندې د محدودیتونو نوې لړئ عملي شي. که څه هم، ځینې ګډونوالې هیله مندې وې چې د دې اصطلاح پلي کول به د تالبانو په وړاندې د نړیوالو قاطعیت وښیي. د بغلان ولایت ښوې ګډونوالې وویل: "زما په اند ښایي اوسنی حکومت غبرګون وښیي. خو د نړیوالو بنسټونو فشار کولای شي په وضعیت مثبته اغیزه وکړي.

روش:

واوره د ډیجیټل څیړنیزو وسیلو سره د ټولنې پر بنسټ چلند یوځای کوي ترڅو د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې په ریښتیني وخت کې د میرمنو او انجونو تجربې او نظرونه ترلاسه کړي. په دې لندیز کې، د آنلاین رای ورکولو نظرپوښته ۴ ډیری انتخابي، ټرلې پای پوښتنې وړاندې کړي. د انلاین ټولپوښتنې په ترڅ کې، د سنوبال نمونې اخیستلو طریقه غوره شوه چې په کې د ۲۹ ولایتونو څخه ۱۶۹۹ ځواب ورکوونکي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه پورته وو، نظرپوښته شوي. ډیجیټل مخامخ مرکې د ۴ ډیری انتخابي، ټرلې پای پوښتنې وړاندې کړي. د مرکو په ترڅ کې، په ۱۹ ولایتونو کې له ۱۸ کلونو څخه پورته، ۲۱۴۹ ځواب ورکوونکو سره د مرکو لپاره د شته شبکو سره د نمونې اخیستلو په موخه مرکې شوې دي. په پای کې، متمرکز ډله ییز بحث په ۱۹ ولایتونو کې د ۳۱۴ ګډون کوونکو سره ترسره شوي، چې په کې د واوره د ښځو د سولې حلقې ۱۳ - ۲۰ غړو برخه اخیستې وهپه دې نظرپوښته کې د بلخ، بامیان، دایکندي، فراه، فاریاب، جوزجان، هرات، کندهار، ننګرهار، بغلان او پکتیا په ګډون د ۱۱ ولایتونو معلومات د استازولې لپاره د باور کچه له ۹۰٪ څخه پورته ده.

د "واوره " په اړه:

واوره د څیړنې او پراختیا بنسټ لخوا رامینځته شوی. دا یو ډیجیټل جوړښت دی چې په ریښتیني وخت کې او د بېلابېلو مسئلو په اړه د ښځو نظریات راټولوي لکه څنګه چې له نوم څخه یې ښکاري، واوره په پښتو کې 'اوریدلو' ته وایي، او له دې موخې سره رامینځته شوی چې د افغان ښځو د "اوریدلو" پروسې ته د یو اړخیزې پېښې په توګه نه بلکه په افغانستان کې د سولې، امنیت او پرمختګ په اړه د ټولو ملي او نړیوالو بحثونو د بشپړې او پرلپسې برخې په توګه وکتل شي.